د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

وردګ دلوړو زده کړو مؤسسه

د ښوونې او روزنې پوهنځی

# ستراتیژیک پلان

# «۱۴۰۰-۱۴۰۴»

لړ لیک

سرلیک گڼه


1. لومړی څپرکی........................................................1
1.1 ښوونې او رزونې پوهنځی د رئیس پیغام........................................1
1.2 سریزه........................................................3
1.3 د ښوونې او روزنې پوهنځی تاریخچه........................................3
.1.4 لرلید........................................................6
.1.5 رسالت........................................................6
1.6 ارزښتونه........................................................6
1.7 د ښوونې او روزنې پوهنځی ستراتیژیک اهداف........................................6
1.8. SWOT تحلیل........................................................7
1.8.1. د داخلی لاملونو تحلیل........................................................8
1.8.2. د خارجي لاملونو تحلیل........................................................10
.1.9 د ښوونې او رونې پوهنځی ستراتیژیک موقیعت........................................12
.1.10 د ښوونې او رونې پوهنځی ستراتیژیک حالت........................................12
.1.11 د ښوونې او رونې پوهنځی ستراتیژی ګانې........................................13
1.11.1. حکومت داري........................................................13
.1.11.1.1 د حکومتداری پرګرامونه........................................................13
.1.11.1.2 مالي، اداري او علمي خپلواکي:........................................................14
1.11.1.3. د فساد پر وړاندې مبارزه........................................................15
1.11.1.4. د ارزیابی او نظارت تقویت........................................................16
1.11.1.5. تفاهم لیکونه او تواميتونه........................................................16
.1.11.1.6 مالي مرستو جذب کول........................................................17
1.11.2. علمي څیړنې او پرګرامونه........................................................17
.1.11.2.1 د کادري غړو توسعه او پراختیا........................................................17
1.11.2.2. د پوهنځی د اداري کارمندانو پراختیا........................................................18
1.11.2.3. تضمین کیفیت او اعتبار تر لاسه کول........................................................18
.1.11.2.4 تدریسي موادو پراختیا........................................................18
.1.11.2.5 بریښنایي زده کړې او تکنالوژی ته لاس رسی........................................................18
.1.11.3 خدمات........................................................19
1.11.3.1. لوړو زده کړو ته لاس رسی........................................................19

1.11.3.2. د کریدیت سیستم تقویت ........ 19

1.11.3.3. محصلینوته د خداماتو زیاتوالی ........ 20

1.11.4. زیربنا برخه ........ 20

1.11.4.1. تدریسي ساختمان ........ 20

1.11.4.2. د کمپیوترلب او نورو تدریسي چارو پرمختګ ........ 20

1.11.5. د ښووني او روزني پوهنځی د ستراتیژیک اولویت ........ 23

1.11.6. ستراتیژیک مقاصد او د پوهنځی موخي سره له زماني ویش او اړینو اجراآتو ........ 24

1.1 د ښووني او رورني پوهنځی پنځه کلن مالي پلان (۱۴۰۰-۱۴۰۴) ........ 25

2. دوهم ځپرکی ........ 26

1.2 د ستراتیژیکانو اجراء ........ 26

3. دریم ځپرکی ........ 27

3.1.ضمیمی ........ 27

3.1.1.شمیره پوښتنپانه: داخلي وضعیت تجزیه او تحلیل27 ........ 7

3.1.2 شمره پوښتنپانه: بیروني وضعیت تجزیه او تحلیل ........ 28

3.1.3 شمیره پوښتنپانه: د ښووني او روزني پوهنځی د علمی برخي پراختیایی جدول ........ 29

3.1.4 شمیره پوښتنپانه: د ښووني او روزني پوهنځی د علمي او اداراتی تشکیلاتو پراختیایی جدول ........ 29



پوهنځی
۱۳۹۹
Faculty of Education

# 1. لومړی څپرکی

## 1.1. ښوونې او روزنې پوهنځی د رئیس پیغام

د ښوونې او روزنې پوهنځی د۱۳۹۸ هـ ش کال په لومړیو کې د لوړو زده کړو وزارت له خوا وردګ پوهنتون ته دښوونې او روزنې پوهنځي په نوم منظور او په ډېرو لږو امکاناتو په کار پیل وکړ، په ډېرو تکنیو حالاتو کې لکه: د رسمي استادانو کمښت ، د معیاري تعمیر او ځانګړي بودجې نه درلودل هغه خنډونه ول چې دا پوهنځي ورسره مخامخ وو. خو بیا هم ښوونې او روزنې پوهنځي او د وردګ پوهنتون د رهبری په مرسته او ځانګړي پاملرنه خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړ.

د پورتنیو لوړو ژورو سره سره د ښوونې او روزنې پوهنځي رهبري شورا معتقده وه چې د دولت د فرهنګي پالیسی سره سم به د ملي انکشافي ستراتیژۍ په رڼا کې د پوهنتون او لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژیک پلان مطابق د وزرات د ستراتیژۍ له مخې هر اړخیزه هلې ځلې کوي تر څو د ښوونې او روزنې پوهنځي د هیواد د ښوونې او روزنې پوهنځیو سره سیال پوهنځی شي.

د پوهنځي اداره غواړي چې د لوړو زده کړو د طرزالعملونو او لوایحو پر اساس د ښې راتلونکې او د خپلو اړینو او ضروري کړنو له پاره اوږد مهاله ستراتیژیک پلان طرحه کړي، دغه طرحه د پوهنځي د ضرورتونو او انکشافي کارونو پر اساس برابره شوې ده چې وروسته ئې د بحث او تائید له پاره د پوهنتون ریاست ته سپاري.

دغه طرحه په داسې ډول برابره شوې تر څو ئې په عملي ساحه کې د کارونو شونتیا ممکنه وي او د دې پوهنځي د راتلونکو اوږدمهالو کارونو د ښه پرمختګ، سمونو او روښانه لېږلید په موخه امکانات ورته برابر شي. د دغه پنځه کلن ستراتیژیک پلان په رڼا کې به د ښوونې او روزنې پوهنځي راتلونکې پنځه کلن کارونه د ځانګړي پلان او ترتیب له مخې پر خپل وخت اجرا کیږي.

اوږده مهاله ستراتیژیک پلان د یاد پوهنځي د څانګو او ریاست ضرورتونو ته په کتو سره برابر شوی، په دې پلان کې د پوهنځي او اړونده څانګو بنیادي کارونو، د ظرفیت لوړولو لارو چارو او انکشافي ضرورتونو ته ځانګړی ځای ورکړل شوی، د دغو کارونو سر ته رسول به د یاد پوهنځي د پنځو کلونو پر فعالیتونو پوره اغېزه ولري او د دې پوهنځي د ښه ځلېدا په موخه به پر ځای اقدام وي.

او په اخر کې مننه کوم دخپل زحمتکش تیم په خاص ډول دستراتیژیک پلان دکمیټې له مشر او دهغې له اعضاوو څخه چې دیاد پلان په ترتیب کې یې زیاتې هلې ځلې وکړې او دلوی خدای ج له درباره ورته په دواړو دارینو کې ورته داجراعظیم غوښتنه کوم


**په درنښت**

**پوهنمل عبدالقدیر جلالي**

**د ښوونې او روزنې پوهنځي رئیس**

## د ښوونې او روزنې پوهنځی د ستراتیژیک پلان چارچوب

### د وړاندیز لومړنی ماډل



## 1.2. سریزه

دا چې هره اداره ځانګړي اهداف لري، د یادو اهداف د ترلاسه کولو لپاره باید یوه منظمه سیستماتیکه لاره په کار واچول شي ترڅو تاکل شوي اهداف په منظم ډول سره تر لاسه شي، چې دغه منظمه او سیستماتیکه لاره د پلان په نوم سره یادیږي. کله چې پلان په داسې ډول سره ترتیب شي چې د یوې ادارې ټول اهداف په ځان کې ولري د ستراتیژۍ یا د ستراتیژیک پلان په نامه سره یادیږي. هره اداره چې ستراتیژي په منظم ډول سره ترتیب کړي هغه اداره به تاکل شوي اهداف په ټاکلي وخت،کم لګښت او ښه ډول سره ترلاسه کړي. نو ځکه د ستراتیژۍ ټاکل تر ټولو مهم فعالیت بلل کیږي. د اهدافو ټاکل، تر لاسه کول، په کم مصرف او لږ وخت دا ټول هغه څه دي چې موږ دې ته اړباسي تر څو د ادارې لپاره په ښه ډول سره ستراتیژیک پلان ترتیب او عملي کړو، له یادو څرګندونو څخه دا معلومیږي چې د ستراټژیک پلان ترتیب کول د یوې ادارې لپاره له لومړنیو اړتیاوو څخه دي.

د وردګ پوهنتون د ښووني او روزني پوهنځی هم هڅه کړې چې ستراتیژیک پلان له اصولو سره سم ترتیب کړي چې په یاد پلان کې د پوهنځی لنډه پېژندنه ، لرلید ، رسالت او ارزښتونو ترڅنګ په لاندې مواردو باندې هم بحث شوی دی.


## 1.3. د ښووني او روزني پوهنځی تاریخچه

د ښووني او روزني پوهنځی په ۱۳۹۸هـ ش کال د لوړو زده کړو وزارت له خوا د وردګ پوهنتون په وړاندیز سره منظور شوه او د یاد پوهنتون په داخل کې یې په خپلو علمي او اکادمیکو فعالیتونه پیل وکړ. یاد پوهنځی که له یوې خوا نوی وو له بلې خوا یې استادان نه یوازې نوي ، بلکې لږ هم وو. د دې تر څنګ امکانات یې ډیر لږ او د اداري او علمي فعالیتونو سره د نوو استادانو نابلدتیا هغه ستونزې وې چې د پوهنځی مسئولین ورسره مخامخ وو. خو بیا هم د دې پوهنځی د ځوانو استادانو قوي عزم او د ښووني او روزني په ساحه کې د هیواد د ځوان نسل د روزنې سره قوي تعهد هغه څه وو چې دغو ټولو ستونزو ته یې اوږه ورکړه او په پوره باور او قوي اراده یې د اداري او اکاډ میکو فعالیتونو د ترسره کولو لپاره شپه او ورځ یوه کړه او د پوهنتون د رهبرۍ په ځانګړي پاملرنه او همکارۍ یې د پوهنځی کالبوت ته ساه ورکړه، نن یې دا دی د دې پوهنتون د سابقه لرونکی پوهنځیو په کتار کې ځان ثابت کړی او په پوره امادګی فعالیت لري. اوسمهال د ښووني او روزني پوهنځی دوې څانګې لري: یوه فزیک څانګه او بله یې د ریاضی څانګه ده د څانګو له پاره آ مرین ټاکل شوي او په نورمال ډول خپلې چارې پرمخ وړي د ۱۳۹۹هـ ش کال د کانکور په ازموینه کې ۱۶۰ تنه محصلان د هیواد له ۷ ولایاتو څخه د کانکور آزموینې له لارې یاد پوهنځی ته کامیاب شوي دي. د ښووني او روزني پوهنځی ۱۰۳ تنه محصلین لري . یاد پوهنځی د استادانو شمیر اوس مهال (۱۲) تنو ته رسیږي چې د پوهنځی ټولې علمي او اکادمیکې چارې تنظیموي . د پوهنځی ډیرې ستونزې هوارې شوې دي. د استادانو تعداد زیات شوی او څانګې پرانیستل شوې دي.

**۱ شمیره جدول: د ښووني او روزني پوهنځی د استادانو احصائیه**


| شمیره | دیپارتمنت | علمي رتبه | | | | | | علمي درجه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ن پوهنیار | پوهنیار | پوهنمل | پوهندوی | پوهنوال | پوهاند | لیسانس | ماستر | دوکتور |
| ۱ | فزیک | ۵ | ۱ | ۱ | ۰ | ۰ | ۰ | ۵ | ۲ | ۰ |
| ۲ | ریاضي | ۵ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۵ | ۰ | ۰ |
| | | | | | | | | د تحصیلي دورې په جریان کې | | |
| | | | | | | | | | ۲ | ۰ |
| مجموع | | | | | | | | ۱۲ | | |

د ښوونې او روزنې پوهنځی (18)سلنه استادان په ماسترۍ کې د هیواد د ننه او بهر په زده کړو بوخت دي او متباقي (82)سلنه استادان حضور لري چې د تدریس تر څنګ د نورو اداري کارونو مسؤولیت هم په غاړه لري. په لاندې دیاګرام کې ښودل شوي دي.




*۱ شمیره دیاګرام: د ښوونې او روزنې پوهنځی د حضوري او تحصیلي درجې په تفکیک سره د استادانو احصائیه.*


د ښوونې او روزنې پوهنځی د اکادمیک تشکیل ورها خوا په خپل جوړښت کې (۶) غیر اکادمیک خدماتي او اداري بستونه لري چې په دوهمه شماره دیاګرام کې په مکمل ډول سره ښودل شوي دي.




*۲ شمیره دیاګرام: د بست په تفکیک سره اداري او خدماتي بستونو تشکیل.*

د ښوونې او رزونې پوهنځی یوه دوه پوړیزه ودانۍ لري چې د درسي او اداري چارو د پرمخ بیولو لپاره کارول کېږي.

د ښووني او روزني پوهنځی تشکیلاتي جدول




**لاسته راوړنې**

1. په عصری تکنالوژی مجهز صنفونه.
2. برحاله لسو کمیتو د پوهنځی په چوکاټ کې.
3. د کارونو په وخت سره تر سره کول.
4. د کمیا په برخه کې د لابراتوار شتون.

**د ښووني او رزوني پوهنځی په کچه په علمي او اداري برخو کي موجوده ستونزې**

**لومړی برخه: تشکيلات او پراختيا**

1. په ځينو مضامينو کي د مسلکي استادانو نشتوالی.
2. د فزيک څانگي لپاره د لابراتوار او لابرانت نشتون.
3. تشکيلاتي کمبود.
4. د اداري کارکوونکو لپاره د ورکشاپونو او فيلوشيفونو نشتوالی.
5. مجازات او مکافاتو اصل ته کمه توجو کول.
6. په ځينو برخو کي د منظمو پاليسيو نشتون.

**دوهمه برخه: تجهيزات**

1. په لازمو عصري وسايلو او تجهيزاتو د مجهزو معياري تولگيو کمښت.
2. د معياري کتابتون او په کتابتون کي د معياري کتابونو کموالی.
3. د کمپيوتر څانگي نشتون.

4. د انټرنیټ په اړونده برخه کې د مشکلاتو شتون.

**درېیمه برخه: تأسیسات او زیربناء**

په هره اداره کې د فعالیتونو د ترسراوي لپاره د بشري او مالي منابعو تر څنګ فزیکي منابعو ته هم ضرورت دی ترڅو بشري ، مالي او فزیکي منابع په یوځایوالي سره خپل فعالیتونه په سم ډول ترسره او اهداف ترلاسه کړي. له بله اړخه د لوړو زده کړو په چوکاټ کې د ښوونې او روزنې پوهنځی یواځنی پوهنځی دی چې د نورو پوهنځیو په پرتله سره د زیاتو څانګو لرونکې ده، نو په همدې اساس سره د زیربنا په برخه کې زیاتو اداري او تدریسي چارو ته ضرورت لري. د ښوونې او روزنې پوهنځی د تأسیساتو او زیربناء په برخه کې یوه اندازه ستونزې او مشکلات لري:

1. د استادانو او اداري کارمندانو لپاره د منظم استوګنځي نشتون.
2. د نقلیه وسایلو لپاره د ځانګړی پارکینګ نشتون.
3. د یو منظم خوړنځای نشتون.
4. د کافي دفترونو او درسي خونو کموالی.
5. د غونډو لپاره د معیاری تالار نشتون.
6. د ځانګړی کتابتون نشتون.
7. د لیلیې د ودانی نشتون.
8. د لوبو لپاره د منظم لوبغالي نشتون.

## 1.4. لرلید

د ښوونې او روزنې پوهنځی به د مسلکي ښوونکو په روزلو او معیاري څېړنو په ترسره کولو سره د هیواد په کچه مخکښ وي.

## 1.5. رسالت

ښوونې او روزنې پوهنځی د تحصیلي نصاب، عصري ټکنالوژی پرمټ، د تدریسي مېتودونو په پلي کولو او څېړنیزو مهارتونو په ښودلو سره مسلکي ښوونکي روزي.

## 1.6. ارزښتونه

1. اسلامي او ملي ارزښت وده.
2. ټولنې ته د خدمت او وطن دوستی روحیه.
3. معیاري تدریس.
4. انصاف او عدالت.
5. نوښتونه او پنځوني.
6. مسلکیتوب.
7. روڼتیا او حساب ورکونه.

## 1.7. د ښوونې او روزنې پوهنځی ستراتیژیک اهداف

ښوونې او روزنې پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې غواړی لاندی اهدافو ته ځان ورسوی:

- د علمی خپلواکی درلودل، د فساد پر وړاندې د مبارزې له لارې د ښې حکومتولی لپاره د رهبری پروګرامونه تقویت کول.
- د کادری او اداری پرسونل ظرفیت لوړوای او درسی مواد پراختیا، پرمختګ، د ۷ دیپارتمنتو ایجاد.
- د مجهز لابراتوارونو او کتابخاني ایجاد.

Faculty of Education

## 1.8. SWOT تحلیل

د ښووني او روزني پوهنځی د ستراتژیک پلان کمیټي تر څیړني وروسته معلومه کړه چې د ښووني او روزني پوهنځی لاندې قووتونه(Strongest) ، ضعفونه(Weaknesses) ، فرصتونه (Opportunities) او تهدیدونه (Threats) لري.

### قوت نقطې (Strongest)

د ښووني او روزني پوهنځی د قوت ټکي په لاندې ډول سره ښودل شوی دي:

1. د ځوان او با انرژي علمي کادرونو او اداري کارکوونکو درلودل.
2. د کیمیا په برخه کې د لابراتوار شتون.
3. د پوهنتون په کچه د کتابتون شتون.
4. منظمه رهبري او متعهد کاري ټیم درلودل.
5. د پوهنتون په کمېټو کې غړیتوب درلودل.
6. د پوهنځی په کچه د لسو کمېټو شتون.
7. د کریډیټ سیستم تطبیق.
8. په کافي اندازه د اداري منابعو شتون.
9. د نوي درسي نصاب تطبیق.
10. اداري تعمیر.
11. مجهز ټولګی درلودل.
12. د HEMIS سیستم تطبیق.
13. د انټرنیټ شتون.
14. د استاد او محصل ترمنځ د $\frac{۱}{۲۵}$ نسبت شتون.
15. د منظم کمپیوټر لب شتون.

### د ضعف نقطې (Weaknesses)

د ښووني او روزني پوهنځی د ضعف ټکي په لاندې ډول سره ښودل شوي دي.

1. د ماسټري او دوکتورا په سویه د علمي کادرونو کمبود.
2. د مجهزو معیاري ټولګیو کمښت.
3. د تدریس لپاره مجهز او معیاري کمپلکس نه درلودل.
4. مناسب تدریسي چاپیریال نشتون.
5. څیړنیز مرکز نشتون.
6. د استادانواو اداري کارکوونکو د کورونو ستونزه.
7. د کیمیا لابراتوار لپاره د مسلکی لابرانټ نه درلودل.
8. د فزیک لابراتوار لپاره د مسلکی لابرانټ نشتون.

### فرصتونه (Opportunity)

د ښووني او روزني پوهنځی هغه فرصتونه چې لري یې په لاندې ډول سره دي.

1. له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لیوالتیا.
2. په ټولنه کې د ښه نوم درلودل.
3. له اړونده تعلیمي اداراتو سره د ښه اړیکو درلودل.
4. د نوي علمي تکنالوژی د تطبیق لپاره ظرفیتونو شتون.

5. د ټولني همکاري او ملاتړ درلودل.
6. په هیواد کې دننه لنډ مهاله مسلکي کورسونو او ورکشاپونو درلودل.
7. د زیربنا لپاره د لازم چاپیریال شتون.

Faculty of Education ۱۳۹۹

## تهدیدونه (Threats)

د ښوونې او روزنې پوهنځی لپاره لاندې تهدیدونه شتون لري:

1. د آزموینو ملی اداري له لارې له ټیټې سویې محصلینو معرفي کېدل.
2. د علمي کادرونو او خدماتي کارکوونکو محدود تشکیل.
3. د استادانو د معاشاتو کمښت.
4. د نصاب مطابق د درسي منابعو نشتون.
5. په ګمارنو کې د غیر ذی ربط اشخاصو او ادارو لاس وهنه.
6. د ټولني ضعیف اقتصادی وضعیت.
7. د محصلینو لپاره د لیلیې نه شتون.

## 1.8.1. د داخلی لاملونو تحلیل

**پوښتنپاڼه :** د داخلي او خارجي وضعیت اړوند د معلوماتو دراټولولو په موخه له پورته ذکر شویو عواملو څخه یاد کاري ټیم لخوا پوښتنپاڼې طرحه او ترتیب کړل شوې. د داخلي وضعیت تحلیل لپاره ۲۳ واحد لرونکي پوښتنپاڼه او د خارجي وضعیت تحلیل او ارزونې لپاره ۱۴ واحد درلودونکي پوښنپاڼه، د ۵ کالم درلودونکي؛ چې لومړئ کالم د واحد شمېرې ته، دوهم کالم د پوښتنپاڼې واحدونو، دریم کالم ضریب (چې د ټولو ضرایبو مجموعه له ۱ تجاوز نکوي)، څلورم کالم رتبې (۴-۳ یا هم ۲-۱)، او پنځم کالم نمرې ته ځانګړي شوي دي ( ۱ شمېره ضمیمه ).

پورته ذکر شوې پوښتنپاڼې د ښوونې او رونې پوهنځی داخل کې (رهبری غړو، آمرینو، استادانو، او مدیرانو ته)، او له پوهنځی څخه د باندې ( پخوانیو ریيسانو، او نورو برخو کسانو ته ) توزیع او له ډکولو وروسته را ټولې کړی شوې دي.

له بده مرغه، کومو کسانو ته چې پوښتنپاڼې توزیع شوي، یو شمیر کسانو سره د دلچسپی بیا هم پوښتنپاڼې تکمیل نکړې. سره لدې په دغه سروې کې اته کسانو برخه اخیستې، چې ټول یې تحصیل یافته او وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې او سیمې اړوند د پوهې خاوندان دي.

دپوښتنپاڼو اړوند معلومات چې دکاري تیم له خوا راټول شوي دی په لاندې جدول کې ښودل کیږي.

## جدول 2: داخلي لاملونو اړوند ډیټا تحلیل

Faculty of Education

| شمېره | داخلي عوامل (قوتونه او ضعفونه) | وزني ضریب | وزني امتیاز | موزون ضریب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ځوان او با انرژي علمي کادرونو او اداري کارکوونکو درلودل. | 0.07 | 4 | 0.28 |
| ۲ | د کیمیا په برخه کې د لابراتوار شتون. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۳ | د پوهنتون په کچه د کتابتون شتون. | 0.04 | 3 | 0.12 |
| ۴ | منظمه رهبري او متعهد کاري تیم درلودل. | 0.06 | 4 | 0.24 |
| ۵ | د پوهنتون په کمپتو کې غړیتوب درلودل. | 0.07 | 4 | 0.28 |
| ۶ | د پوهنځی په کچه د لسو کمپتو شتون. | 0.06 | 4 | 0.24 |
| ۷ | د کریډیټ سیستم تطبیق. | 0.06 | 4 | 0.24 |
| ۸ | په کافي اندازه د اداري منابعو شتون. | 0.04 | 3 | 0.12 |
| ۹ | د نوي درسي نصاب تطبیق. | 0.04 | 4 | 0.16 |
| ۱۰ | اداري تعمیر. | 0.05 | 4 | 0.20 |
| ۱۱ | مجهز ټولګی درلودل. | 0.06 | 4 | 0.24 |
| ۱۲ | د HEMIS سیستم تطبیق. | 0.06 | 3 | 0.18 |
| ۱۳ | د انټرنیټ شتون. | 0.07 | 3 | 0.21 |
| ۱۴ | د استاد او محصل ترمنځ د ۱/۲۵ نسبت شتون. | 0.05 | 4 | 0.20 |
| ۱۵ | د منظم کمپیوټر لب شتون. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| داخلي عوامل (ضعفونه) | | | | |
| ۱۶ | د ماستري او دوکتورا په سویه د علمي کادرونو کمبود. | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۱۷ | د مجهزو معیاري ټولګیو کمښت. | 0.04 | 2 | 0.08 |
| ۱۸ | د تدریس لپاره مجهز او معیاري کمپلکس نه درلودل. | 0.02 | 1 | 0.02 |
| ۱۹ | مناسب تدریسي چاپیریال نشتون. | 0.07 | 2 | 0.14 |
| ۲۰ | څیرنیز مرکز نشتون. | 0.04 | 1 | 0.04 |
| ۲۱ | د استادانواو اداري کارکوونکو د کورونو ستونزه. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۲۲ | د کیمیا لابراتوار لپاره د مسلکی لابرانټ نه درلودل. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۲۳ | د فزیک لابراتوار لپاره د مسلکی لابرانټ نشتون. | 0.08 | 1 | 0.08 |
| **مجموعه** | | **1** | | **3.53** |

د یادوني وړ ده، کوم ارقام چې دلته راوړل شوي فکس ندي، ځکه چې د حسابي عملیو په سرته رسولو سره د عشاري ارقامو په پایله کې بدلون راځي.

۱۳۹۹
Faculty of Education

## 1.8.2. د خارجي لاملونو تحليل

### جدول 3: د خارجي لاملونو اړوند ډیټا تحلیل

| شمېره | بیروني عوامل (فرصتونه) | ضریب | امتیاز | نمره |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لېوالتیا. | 0.08 | 4 | 0.32 |
| ۲ | په ټولنه کې د ښه نوم درلودل. | 0.1 | 4 | 0.4 |
| ۳ | له اړونده تعلیمي اداراتو سره د ښه اړیکو درلودل. | 0.07 | 3 | 0.21 |
| ۴ | د نوي علمي تکنالوژۍ د تطبیق لپاره ظرفیتونو شتون. | 0.06 | 4 | 0.24 |
| ۵ | د ټولني همکاري او ملاتړ درلودل. | 0.07 | 4 | 0.28 |
| ۶ | په هیواد کې دننه لنډ مهاله مسلکي کورسونو او ورکشاپونو درلودل. | 0.07 | 4 | 0.28 |
| ۷ | د زیربنا لپاره د لازم چاپیریال شتون. | 0.07 | 3 | 0.21 |
| | بیروني عوامل (تهدیدونه) | | | |
| ۸ | د آزموینو ملی اداري له لارې له ټیټې سویې محصلینو معرفي کېدل. | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۹ | د علمي کادرونو او خدماتي کارکوونکو محدود تشکیل. | 0.08 | 1 | 0.08 |
| ۱۰ | د استادانو د معاشاتو کمښت. | 0.09 | 1 | 0.09 |
| ۱۱ | د نصاب مطابق د درسي منابعو نشتون. | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۱۲ | په ګمارنو کې د غیر ذی ربط اشخاصو او ادارو لاس وهنه. | 0.07 | 2 | 0.14 |
| ۱۳ | د ټولني ضعیف اقتصادی وضعیت. | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۱۴ | د محصلینو لپاره د لیلیې نه شتون. | 0.06 | 2 | 0.12 |
| **مجموعه** | | **1** | | **2.55** |

د پورته ذکر شویو قوت نکاتو او فرصتونو څخه په استفادې سره هڅه کیږي چې ضعفونه له منځه یوړل شي او تهدیدات دفع کړای شي،چې په ۳ شمیره جدول کې په ګوته شوي دي.

جدول 4 : د سوات ماتریکسSWOT پواسطه تحلیل او تجزیه

| داخلي عوامل / خارجي عوامل | قوتونه (S) | ضعفونه (W) |
|---|---|---|
| | 1. د ځوان او با انرژي علمي کادرونو او اداري کارکوونکو درلودل.<br>2. د کیمیا په برخه کې د لابراتوار شتون.<br>3. د پوهنتون په کچه د کتابتون شتون.<br>4. منظمه رهبري او متعهد کاري ټیم درلودل.<br>5. د پوهنتون په کمپتو کې غړیتوب درلودل. | 1. د ماستري او دوکتورا په سویه د علمي کادرونو کمبود.<br>2. د مجهزو معیاري ټولګیو کمښت.<br>3. د تدریس لپاره مجهز او معیاري کمپلکس نه درلودل.<br>4. مناسب تدریسي چاپیریال نشتون.<br>5. څېړنیز مرکز نشتون.<br>6. د استادانواو اداري کارکوونکو د کورونو ستونزه. |


| | | |
|---|---|---|
| | 6. د پوهنځی په کچه د لسو کمپیوټرو شتون.<br>7. د کریډیټ سیستم تطبیق.<br>8. په کافي اندازه د اداري منابعو شتون.<br>9. د نوي درسي نصاب تطبیق.<br>10. اداري تعمیر.<br>11. مجهز ټولګی درلودل.<br>12. د HEMIS سیستم تطبیق.<br>13. د انټرنیټ شتون.<br>14. د استاد او محصل ترمنځ د $\frac{۱}{۲۵}$ نسبت شتون.<br>15. د منظم کمپیوټر لب شتون. | 7. د کیمیا لابراتوار لپاره د مسلکی لابرانټ نه درلودل.<br>8. د فزیک لابراتوار لپاره د مسلکی لابرانټ نشتون. |
| فرصتونه(O)<br>1. له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لیوالتیا.<br>2. په ټولنه کې د ښه نوم درلودل.<br>3. له اړونده تعلیمي اداراتو سره د ښه اړیکو درلودل.<br>4. د نوي علمي تکنالوژۍ د تطبیق لپاره ظرفیتونو شتون.<br>5. د ټولني همکاري او ملاتړ درلودل.<br>6. په هیواد کې دننه لنډ مهاله مسلکي کورسونو او ورکشاپونو درلودل.<br>7. د زیربنا لپاره د لازم چاپیریال شتون. | له (S1) څخه په استفادې سره (O1) او (O3) ته لاسرسی مومو.<br>له (S2) څخه په استفادې سره ځانونه (O1) او (O4) ته رسولی شو<br>له (S4) څخه په ګټه اخیستنې سره کولای شو (O6) ته ورسیږو.<br>له (S7) څخه په کار اخیستلو سره کیدای شي (O2) او (O4) تر لاسه شي. | له (O1)، (O3)، (O4) او (O5) څخه په ګټه اخیستنې سره (W1) له منځه وړ کیدی شي.<br>له (O3) او (O7) په کارولو سره (W2) او (W3) رفع کیدای شي.<br>له (O3) او (O4) په کارولو څخه په استفادې سره (W4) له منځه وړلی شوو. |
| تهدیدونه(T)<br>1. د آزموینو ملی اداري له لارې د ټیټې سویې محصلینو معرفي کېدل.<br>2. د علمي کادرونو او خدماتي کارکوونکو محدود تشکیل.<br>3. د استادانو د معاشاتو کمښت.<br>4. د نصاب مطابق د درسي منابعو نشتون.<br>5. په ګمارنو کې د غیر ذی ربط اشخاصو او ادارو لاس وهنه.<br>6. د ټولني ضعیف اقتصادی وضعیت.<br>7. د محصلینو لپاره د لیلیې نه شتون. | د (S2)، (S4) او (S7) په کارولو سره (T1) دفع کیدی شي.<br>له (S7) او (S9) په کارولو سره (T4) له منځه تللی شي.<br>د (S1) په ذریعه (T6) دفع کیدای شي. | |

۱۳۹۹ Faculty of Education

## 1.9. د ښووني او روني پوهنځی ستراتیژیک موقیعت


د داخلي او خارجي وضعیت اړوند کومي پوښتنپاڼي چې د خبره کسانو لخوا ډکې شوي پر مټ د امتیازاتو د محاسبې په وسیله د ښووني او روني پوهنځی ستراتیژیک موقیعت ټاکل شوی او په لاندې ډیاګرام کې ښودل کیږي.

د داخلي او خارجي فکتورونو په نه خونو میټرکس کې که چیري د نمرو له مخې، د پوهنځی موقعیت په VI، III، II خونو کې ځاي په ځاي شي نو دا د پوهنځی وده او پرمختګ څرګندوي. او که دا په IX, V, I خونو کې ځای پرځای شي، دا د پوهنځی د ساتنې او ثبات ستراتیژیو استازیتوب کوي. او که چیرې دا د IIX, VII, IV په خونو کې ځای پرځای شي، دا د دفاعي او کمولو ستراتیژیو ته اشاره کوي. نو د ښووني او روزني پوهنځی ستراتیژیک موقیعت د اخیستل شوو نمرو له مخې په III،VI خونه کې موقعیت لري چې د وده او پرمختګ څرګندوي.




## 1.10. د ښووني او روني پوهنځی ستراتیژیک حالت

د داخلي او خارجي وضعیت اړوند کومي پوښتنپاڼي چې د خبره کسانو لخوا ډکې شوي پر مټ د امتیازاتو د محاسبې په وسیله د ښووني او روزني پوهنځی ستراتیژیک حالت ټاکل شوی او په لاندې ډیاګرام کې ښودل کیږي. نو د ښووني او روزني پوهنځی ستراتیژیک حالت د اخیستل شوو نمرو له مخې په اوله خونه کې موقعیت لري چې د تهاجمی حالت څرګندوي.




## 1.11. د ښووني او روني پوهنځی ستراتیژی ګانې

دا چي ښووني او روني پوهنځی د داخلي او خارجي عواملو ارزوني ماتریکس پر بنسټ په اوله ساحه (تهاجمی) کې قرار لري، د یاد پوهنځی موخي او مقاصد په کلي او فرعي سطحو کې په لاندي توګه معرفي کیږي.

### 1.11.1. حکومت داري

د ښووني او روزني پوهنځی د کادري او اداري جوړښت په رأس کې د پوهنځی رئیس، د پوهنځی مرستیال او د څانګو آمرين شتون لري، یاد اشخاص په هماهنګ او یوځایي ډول د پوهنځی تدریسي ، څیړنیزي ، علمي او اداري چارې سرته رسوي. د دې تر څنګ د ښووني او روزني په پوهنځی کې د فعالیتونو د ښه ترسراوي په موخه ( تضمین کیفیت ، ستراتیژیک پلان، نظم ډیسپلین او د شکایاتو د اوریدلو، بریښنائي زده کړو، څیړني، نصاب، د مرستو د جلب او جذب ، نشراتو او د ازموینو ) کمیټي تشکیل شوې دي، د هرې کمیټي لپاره د قوانینو په رڼا کې د دندو لایحې ترتیب او د پوهنځی د رهبری په شورا کې تائید شوې دي. د یادو کمیټو د فعالیتونو د نظارت په برخه کې د پوهنځی رئیس، مرستیال او د څانګو امرین شتون لري.

علاوه پر دې یاد پوهنځی کولای شي چې په باندني چاپیریال کې هم د ښې حکومتولی په برخه کې له نورو اشخاصو او ادارتو سره همکاري تر سره کړي.

#### 1.11.1.1. د حکومتداری پرګرامونه

د ښووني او روزني پوهنځی رهبري تل هڅه کوي چې د اداري په برخه کې اداري کارمندانو او استادانو ته لازم سیمینارونه او ورکشاپونه ترتیب کړي، چې په دې سره به د پوهنځی په اداري برخه کې لازم پرمختګ تر لاسه شي.

همداشان د استادانو د تدریس ، څیړني او تحقیق په برخه کې د ظرفیت لوړوني لپاره بیلابیل ورکشاپونه ترتیب کوي، ترڅو د ښووني او روزني پوهنځی کادري غړي په دې برخو کې لازم مهارتونه تر لاسه کړي.

د محصلینو د پوهاوي او د ستونزو د حل په موخه د هغه لپاره لارښود استادان ټاکل کیږي، چې هر لارښود استاد به د خپل پلان مطابق غونډې تر سره کوي، د محصلینو د پوهې د لوړتیا لپاره بیلابیل پروګرامونه ترتیب او په کار اچول کیږي.

Faculty of Education ۱۳۹۹

## 1.11.1.2. مالي، اداري او علمي خپلواکي:

مالي او اداري خپلواکي ترلاسه کول

له پوهنتون سره د مالي خپلواکی د تر لاسه کولو په برخه کې همکاري کول: د هیواد په کچه اوسني حالت ته په کتو د هیواد ټول دولتي لوړو زده کړو بنسټونه له دولت څخه په مالي ډول حمایه کیږي، یوازې دا نه چې په مالي ډول د دولت د تقویې په برخه کې مرسته نشي کولای، لیکن د دولت د بودیجي یوه لویه برخه مصرفوي، د ښووني او روزني پوهنځي هوډ لري چې مالي استقلالیت ته د رسیدلو په پار په پنځو کلنو کې خپل فعالیتونه د مؤسسي د ستراتیژیک پلان او پالیسو سره په مطابقت کې او د نورو پوهنځیو سر د ګډو همکاریو په اساس، په داسي ډول تنظیم کړي چې د خپلو اغیزمنو کړنو په پایله کې د دولت بودیجي ته د یو مقدار عوایدو د زیاتوالي سبب شي. دې موخې ته د رسید لو په پار پوهنځی به (د کادري او مسلکي غړو ځیرنیزو او علمي ظرفیتونو لوړول، شپې برنامو ایجادول، له اړونده ادارو سره هوکړه لیکونو لاسلیک کول، له شرکاوو سره په ګډه د ځیرنو تر سره کول، د لابراتوارونو ایجادول او تجهیزول، د پوهنتون په سطحه باکیفیته کفتریا جوړول، لنډ مهاله مسلکي روزنیز کورسونو رامنځته کول. پروګرامونو باندې تمرکز کوي.

a) د کادري او مسلکي غړو ځیرنیزو او علمي ظرفیتونو لوړول.
b) د شپې برنامو ایجادول.
c) له اړونده ادارو سره هوکړه لیکونو لاسلیک کول.
d) له شرکاوو سره په ګډه د ځیرنو ترسره کول.
e) د لابراتوارونو ایجادول او تجهیزول.
f) د پوهنتون په سطحه د باکیفیته کفتریا جوړول.
g) لنډ مهاله مسلکي روزنیز کورسونو رامنځته کول.
a) د کادري او مسلکي غړو ځیرنیزو او علمي ظرفیتونو لوړول:

دا یو روښانه حقیقت دی چې د ځانګې، پوهنځی او پوهنتون پرمختګ او پیاوړتیا د کادري او مسلکي غړو په ظرفیت او علمي کچې او مهارتونو پورې اړه لري، د دې لپاره چې د ښووني او روزني پوهنځی استادان او مسلکي کارکونکي د عصري تکنالوژۍ او لابراتواري وسایلو او ماشین آلاتو په کارولو سره په ملي او نړیواله کچه اړیني او مهمي ځیرني ترسره او مهمې ځیرنیزې پروژې پرمخ یوسي اړینه ده چې کادري غړي او مسلکي کارکوونکي پدې برخه کافي پوهه او مهارتونه ولري، کوم څه چې زمونږ د هیواد د تحصیلي بنسټونو یو له سترو ستونزو څخه دی، د ښووني او روزني پوهنځی د خپل کارمندانو د ظرفیت لوړوني پروېي ته په اولویت ورکولو سره د پنځو کلنو په اوږدو کې د خپل لیسانس استادانو ماستری کچې ته د رسولو تر څنګ د مختلفو لنډمهاله روزنیزو پروګرامونو کې د استادانو او مسلکي غړو د ګډون زمیني برابرولو هڅو ته دوام ورکوي.

b) د شپې برنامو ایجادول:

دا چې د هیواد د ناوړه شرایطو په اساس زمونږ د ټولني د ځوان کهول یوه ستره برخه د کورنیو ستونزو له کبله نشي کولای خپلو لوړو زده کړو ته ادامه ورکړي او د ورځې په اوږدو کې په مختلفو دندو او فعالیتونو باندې بوخت وي. د ښووني او روزني پوهنځی د دې سونزې په درک کولو سره، د شپې برنامو د ایجادولو هوډ لري څو له یوې خوا یې د هیواد د ځوان نسل لپاره لوړو زده کړو ته د لاس رسي زمینه برابره کړي وي او له بلې خوا یې د پوهنځی او پوهنتون د مالي ملاتړ په برخه کې اغیزمن اقدام تر سره کړی وي.

c) له اړونده ادارو سره هوکړه لیکونو لاسلیک کول:

پوهنځی د محصلینو او استادانو د علمي او مسلکي مهارتونو لوړولو په موخه له نورو څخه د مناسبو همکاریو لاسته راوړلو په پار او همدا راز د استادانو او محصلینو مهارتونو څخه په ګټي اخیستني د ټولني په پرمختګ کې

رغنده رول لرلو په خاطر پوهنځی لیوالتیا لري چې له مختلفو داخلي او د امکان په صورت کې له بهرنیو اړونده ادارو سره تفاهم لیکونه لاسلیک کړي. له نوموړو تفاهم لیکونو څخه په استفادې به د پوهنځی کارکوونکو ته په مختلفو علمي پروګرامونو کې د ګډون زمینه برابره شي، همدا راز به استادان وکولای شي چې د ټولنې مختلفو برخو کې د خپلې پوهې او مهارتونو څخه په کټه اخیستنې خپل خدمات وړاندې کړي ترڅو د ټولنې د پرمختګ سبب شي. له استادانو علاوه محصلین او اداري کارمندانو لپاره به هم په مختلفو برخو کې د ظرفیت لوړوني زمینې برابرې شي.

d) له شرکاوو سره په ګډه د څیړنو تر سره کول:

د اوسني بشري ټولنې پرمختګ ستر راز د ساینس او ټیکنالوژۍ پرمختګ دی چې د ساینس او ټیکنالوژۍ پرمختګ له څیړنو څخه پرته ناممکن دی. د ښووني او روزني پوهنځی د استادانو او مسلکي غړو او حتي د محصلینو د څیړنیزو مهارتونو څخه په ګټې اخیستنې د پوهنځی په داخل کې انفرادي څیړنو او له پوهنځی څخه بحر د تفاهم لیکونو څخه په استفادې له شرکاوو سره د ګډو څیړنیزو پروژو پر مخ وړلو باندی تمرکز کوي.

e) د لابراتوارونو ایجادول او تجهیزول:

د اغیزمنو او مثمرو څیړنو د ترسراوي او د محصلینو عملي درسونو په برخه کې د اسانتیا په موخه، په مختلفو عصري امکاناتو باندې مجهز لابراتوارونو ته اړتیا ده، د دې په مرسته به یواځې دانه چې د پوهنځی استادان او محصلین مهمې او اړینې څېړنې تر سره کوي، لیکن بهرني څیړونکي او شرکاوو به هم وکولای شي چې د پوهنځی او پوهنتون د مالي اصولو او مقرراتو مطابق د خپلو څیړنیزو پروژو د بشپړولو لپاره به د ذکر شویو لابراتوارونو له امکاناتو څخه ګټه واخلي. چې دا چاره به له یوې خوا د ټولنې د اړتیا وړ څېړنو په ترسراوي کې اسانتیا برابره کړي او له بلې خوا به پوهنځی او پوهنتون ته د عاید یوه مهمه منبع رامنځته شوې وي.

f) لنډ مهاله مسلکي روزنیز کورسونو رامنځته کول:

د ښووني او روزني پوهنځي او نورو پوهنځیو د محصلینو سربېره د ټولنې ځوان زده کړیالانو د مختلفو مهارتونو لوړوني او سالمې روزنې په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کې د ښووني او روزني پوهنځی د داسي تقویتي مسلکي روزنیزو پروګرامونو د دائرولو هوډ لري چې په واسطه یې زده کړیالان وکولای شي چې د یادو پروګرامونو څخه په استفادې د بازار په نسبت د ډیر کم لګښت په بدل کې په خپل فارغ وخت کې د IT، ژبو، څېړنیزو او نورو اړینو پروګرامونو په برخه کې خپلو مهارتونو ته انکشاف ورکړي ترڅو د فراغت سره سم وکړای شي چې د مارکیټ او بازار د غوښتنو مطابق دندې ترسره او د استخدام کوونکو رضایت تر لاسه کړای شي.

## .1.11.1.3 د فساد پر وړاندې مبارزه

اداري فساد یو له هغو کړغیړنو کړنو څخه دی چې د یوې ادارې د وروسته پاتې والي سبب کېږي. په افغانستان کې تر امنیت او بیکارۍ وروسته دریمه غټه ستونزه اداري فساد دی چې ورسره مخامخ یو، نو له همدې امله د اداري فساد سره مبارزه یوه اجتماعي او سیاسي اړتیا ده. پوهنځی هوډ لري چې په خپل چوکاټ کې د هر ډول فساد مخه ونیسي او مخکې له دې چې وده وکړي له منځه یې وړي.

ښووني او روزني پوهنځی ملت او ټولنې ته دا ژمنه ورکوي چې په خپلو ورځنیو چارو کې د اصلاحي لارښوونو او نافذه قوانینو تطبیق او له اداري فساد سره ټینګه مبارزه به کوي او ځوان فارغان به په دې روحیه روزي چې نه یوازې

په اداري فساد کې به خپله دخیل نه وي بلکه دوی به هم د هیواد په کچه د اداري فساد د مخنیوي او نابودۍ په موخه هر اړخیزې هلې ځلې کوي. په دې برخه کې لاندې کړنې سرته رسوي.

### په پوهنځي کې له اداري فساد سره د مبارزې د کمیټې پیاوړي کول

پوهنځی له اداري فساد سره د مبارزې په موخه د نظم و دسپلین کمیټه جوړه کړې چې د بېلابیلو څانګو استادان او اداري کارمندان په کې غړیتوب لري او د پوهنځی له رهبری سره به په دې اړه خپل راپور شریکوي، د فساد له معنا او مفهوم سره بلدتیا او په ریښتني ډول له فساد سره د مبارزې په اړه خپلو کارمندانو ته داسلامي لاربښوونو او نافذه قوانینو په رڼا کې پریزینټیشنونه دایرول.

## .1.11.1.4 د ارزیابۍ او نظارت تقویت

روان کار له پلان شوي کار سره پرتله کول د نظارت په معنی سره دی، تر څو شخص او اداره په دې اړه معلومات ترلاسه کړي

چې روان فعالیتونه د ټاکل شویو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره په څومره اندازه سره مؤثر دي؟ نظارت او ارزیابي ترسره شوي اشتباهات روښانه کوي او د هغه د تکرار مخنیوی کوي.

په همدې اساس سره د ښوونې او روزنې پوهنځی رهبري د چارو د ښه ترسراوي په موخه په هره برخه کې په دوامدار ډول نظارت تر سره کوي ترڅو فعالیتونه په منظم ډول ترسره او ټاکلي اهداف په تعین شوي وخت کې تر لاسه شي. هغه کړنې چې په دې برخه کې یې د ښوونې او روزنې پوهنځی تر راتلونکو پنځو کلنو پورې تر سره کوي په لاندې ډول سره دي.

- ❖ په پوهنځی کې د ترکیب شویو کمیټو د فعالیتونو او پریکړو څخه په دوامدار ډول نظارت.
- ❖ له اصولو سره سم په دوامداره ډول د تدریسي او اجرائیه مدیریتونو ارزیابي او نظارت.
- ❖ د څانګو له فعالیتونو څخه په دوامداره ډول سره نظارت او ارزونه.
- ❖ په دوامداره ډول د خدماتي کارمندانو د فعالیتونو نظارت او ارزونه.
- ❖ له ښکته مراجعو څخه په منظم ډول د فعالیتونو د تر سره کولو راپور غوښتل.
- ❖ د تر لاسه شوي راپور د مثبت او منفي برخو په اړه مربوطه مرجع ته خبر ورکول.
- ❖ لوړو مقاماتو ته د خپلو فعالیتونو په اړه په وخت سره راپور ورکول.
- ❖ د سمستر په منځ او آخر کې د تدریس شویو مفرداتو ارزونه.
- ❖ د کادري غړو ، اداري کارمندانو او خدماتي کارکوونکو د ارزونې لپاره ځانګړې پوښتنپاڼې جوړل.

## .1.11.1.5 تفاهم لیکونه او توامیتونه

په ټولنه کې د ټولنیز ژوند کولو یو اصل هم ارتباطات دي چې هیڅ شخص او اداره په یوازې توګه ټول فعالیتونه په ښه ډول سره نه شي تر سره کولای او نه هم په یوازې ډول خپل ټاکلي اهداف په بشپړ ډول سره ترلاسه کولای شي.

د فعالیتونو د سم تر سراوي او د اهدافو د ترلاسه کولو لپاره اړینه ده چې هره اداره یا شخص له اړوند لورو سره ارتباطات ولري او هم د وخت د تقاضا سره یاد ارتباطات قوي او پیاوړي کړي. دې اصل ته په کتو سره د ښوونې او روزنې پوهنځی غواړي چې په راتلونکي پنځو کلنو د لاندې کړنې تر سره کړي.

- ❖ د وردګو ولایت د معارف ریاست سره د تفاهم لیک لاسلیک کول.
- ❖ د وردکو ولایت د تخنیکي اومسلکي زده کړو له آمریت سره تفاهم لیک لاسلیک کول.
- ❖ د پوهنتون په همکارۍ له هغو ادارو سره تفاهم لیکونه لاسلیک کول چې د ښوونې او روزنې پوهنځی په برخه کې د زده کړو ځانګړي پرګرامونو دایروي.
- ❖ له اصولو سره سم د پوهنتون له ټولو لاسلیک شویو تفاهم لیکونو څخه د ضرورت په وخت کې استفاده کول.
- ❖ د محصلینو د زده کړې د پراختیا او د مصرف د کمښت په موخه له شخصي ښوونیزو ادارو سره تفاهم لیکونه لاسلیک کول.

## .1.11.1.6 مالي مرستو جذب کول

وردگ پوهنتون چې زيات تاريخ لرونکی پوهنتون نه دی په ځانګړي ډول سره د ښوونې او روزنې پوهنځی چې په ۱۳۹۹ کال کې يي په فعاليت سره پيل کړی دی، نو په همدې اساس سره تر اوس مهاله د ځان بسياينې توان نه لري.
ياد پوهنځی هڅه کوي چې د فعاليتونو د سم ترسراوي او د ټاکلو اهدافو د ترلاسه کولو په پار د بيلابيلو ادارو او اشخاصو د مرستو د جلب په برخه کې تر راتلونکو پنځو کلنو پورې لاندې فعاليتونه تر سره کړي.

- ❖ د پوهنځی په سطحه د مرستو د جلب کمېټه ايجاد کول.
- ❖ د مرستو د جلب او جذب کمېټې لپاره د دندو لايحه او د مرستو جلب تګلاره ترتيبول.
- ❖ د پوهنتون په داخل او له پوهنتون څخه خارج د مرستو د جلب لپاره ځانګړي تګلاره ترتيبول.
- ❖ د ترلاسه شويو مرستو د ساتنې په موخه ځانګړی طرزالعمل جوړول.

۱۳۹۹
Faculty of Education

## .1.11.2 علمي څېړنې او پرګرامونه

د هرې ټولنې پرمختګ د علم او پوهې په اساس منځ ته راځي، د علم او پوهې د رامنځته کولو لپاره اړينه ده چې په ټولنه کې بيلابيل ښوونيز پرګرامونه ترتيب او پرمخ بوول شي. تر څو د ټولنې په هره برخه کې لازم پرمختګونه منځته راشي.
د ښوونې او روزنې پوهنځی هڅه کوي چې تر راتلونکو پنځو کلنو پورې د علم او پوهې د زياتوالي او پرمختيا لپاره لاندې پرګرامونه ايجاد او پر مخ بوسي.

- ❖ د پوهنځی په تشکيل کې د نورو څانګو ايجاد.
- ❖ د څوارلسم پاس کسانو لپاره د ليسانس تر کچې پورې د زده کړو زمينه برابرول.
- ❖ داخل خدمت برنامه ترتيب کول.
- ❖ شپني برنامه ترتيب کول.
- ❖ د علمي څېړنو تر سره کول او نشر کول.
- ❖ د تدريسي کتابونو تأليف او ترجمه تر سره کول.
- ❖ د محصلينو د مهارتونو د پراخوالي لپاره د انګليسي او کمپيوټر پروګرامونه ترتيب کول.
- ❖ د اداری کارمندانو د پوهې د زياتوالي لپاره د انګليسي او کمپيوټر پروګرامونه ترتيب کول.

## .1.11.2.1 د کادري غړو توسعه او پراختيا

د علم او پوهې د انتشار لپاره بيلابيلو منابعو ته اړتيا ده، له دې منابعو څخه يوه هم بشري منبع ده، چې د هغه په واسطه سره علم او پوهه په ټولنه کې نشر او له يوه نسل څخه بل نسل ته رسول کيږي. په څومره اندزه چې په يوه ټولنه کې استادان، ښوونکي او کادري غړي د علم په ګنه سمبال وي په هم هغه اندازه سره به د علم او زده کړې بهير ښکلی او ځلانده وي.

د ښوونې او روزنې پوهنځی غواړي چې تر راتلونکو پنځو کلونو پورې د خپل کادري ټيم د رشد او پراختيا په برخه کې لاندې کړنې تر سره کړي.

- ❖ د قوانينو او لوايحو مطابق د نوي کادري پرسونل جذب کول.
- ❖ په جذب کې لوړ تحصيل لرونکو اشخاصو ته اولويت ورکول.
- ❖ د کادرونو په جذب کې له هر ډول تعصب څخه ډډه کول.
- ❖ د پوهنتون په همکاری سره د پوهنتون په داخل او له پوهنتون څخه د باندې لنډ مهاله روزنيز پرګرامونه رامنځته کول.
- ❖ د تدريس د نويو ميتودونو په اړه سيمينارونه ترتيب کول.

## 1.11.2.2.      د پوهنځی د اداري کارمندانو پراختیا

د پوهنځی د فعالیتونو د سم ترسراوي او اهدافو د ترلاسه کولو لپاره یوازې د کادري تشکیل رشد او پرمختیا کفایت نه کوي د کادري تشکیل د رشد او پرمختیا تر څنګ د اداري تشکیل رشد او پرمختیا یو ضروري اصل بلل کیږي. تر څو د پوهنځی ټول فعالیتونه په سم ډول تر سره او ټاکل شوي اهداف په معین وخت کې ترلاسه شي.

د ښوونې او روزنې پوهنځی په پلان کې لري چې تر راتلونکو پنځو کلونو پورې د پوهنځی اداري برخې ته په لاندې ډول سره رشد او پرمختیا ورکړي.

- ❖ د قوانینو او لایحو مطابق د اداري کارمندانو زیاتول.
- ❖ د اداري کارمندانو په جذب کې پوره شفافیت رامنځته کول.
- ❖ د اداري کارمندانو د جذب په پروسه کې وړ او لایق کارمندان په دنده ګمارل.
- ❖ د پوهنتون سره په همغږۍ د پوهنتون په داخل او له پوهنتون څخه خارج د اداري کارمندانو د ظرفیت لوړوني لپاره سیمینارونه او ورکشاپونه جوړول.
- ❖ د اداري کارمندانو د زده کړې د پیاوړتیا لپاره د ماسټرۍ برنامو ته معرفي کول.

## 1.11.2.3.      تضمین کیفیت او اعتبار تر لاسه کول

د ښوونې او روزنې پوهنځی د ملي او نړیوالو معیارونو په رڼا کې د ښو خدماتو په وړاندې کولو سره غواړي چې ملي او نړیوال اعتبار تر لاسه کړي. چې په دې برخه کې د ښوونې او روزنې پوهنځی ډیرې هلې ځلې کړې او لا یې هم کوي.
هغه ټکي چې د ښوونې او روزنې پوهنځی یې په راتلونکو پنځوکلونو کې ترسره کوي په لاندې ډول دي:

- ❖ په پوهنځی کې د تضمین کیفیت کمېټې په وخت سره ارزونه ترسره کول.
- ❖ له بیلابیلو اداره سره تفاهم لیکونه لاسلیک کول.
- ❖ د پوهنځی ټول تشکیل ته د تضمین کیفیت د معیارونو په اړه ورکشاپونه ترتیب کول.
- ❖ د پوهنځی لپاره د لرلید ، رسالت او ستراتیژیک پلان جوړول او د هغې تائیدي ترلاسه کول.
- ❖ د ټولنې په پرمختګ کې فعاله ونډه اخیستل.
- ❖ محصلینو ته د اعتبار د ترلاسه کولو په اړه سیمینارونه ترتیبول.
- ❖ د عامه پوهاوي لپاره پوهنځی ته کتلاک ترتیبول.

## 1.11.2.4.      تدریسي موادو پراختیا

د ښوونې او روزنې پوهنځی هڅه کوي چې د نصاب د کمیټې په مرسته د تدریس مفردات د لوړو زده کړو وزارت له ترتیب شوي نصاب سره برابر کړي. همدا شان د پوهنځی ټول کادری غړی د تدریسي موادو په ترتیب کې له معیاري مأخذونو او تکنالوژۍ څخه استفاده کوي.
په دې سربېره د ښوونې او روزنې پوهنځی هڅه کوي چې د تدریسي موادو د پراختیا په برخه کې لاندې کړنې تر سره کړي.

- ❖ د تدریسي موادو په ترتیب کې له ځانګړو سافټ ویرونو څخه استفاده.
- ❖ د تدریسي موادو په ترتیب کې بدلونونه رامنځته کول.
- ❖ د مضامینو د عملي کار لپاره امکانات برابرول.
- ❖ د هر مضمون د تدریس لپاره مسلکي شخص ګمارل.

## 1.11.2.5.      بریښنایي زده کړې  او تکنالوژۍ ته لاس رسی

ښوونې او روزنې پوهنځی د اوسنی نړۍ په بدلېدونکي حالت کې تر ټولو ښه او اغېزمنه وسیله د معاصرې ټکنالوژۍ کارونه بولي. د برښنایي زده کړو د کرنلارو په پلي کولو سره لاندې مهمې موخې ترلاسه کېدای شي.

- ❖ د زده کړو لپاره په اوسنیو ټکنالوژیو سمبال چاپېریال را منځته کول.
- ❖ د بریښنایي وسایلو په مرسته له ښوونیزو سرچینو څخه اغیزمنه ګټه اخیستل.
- ❖ د ښوونې او زده کړې نوې لارې چارې موندل.

پوهنځی ... ۱۳۹۹ Faculty of Education

۱۳۹۹
Faculty of Education

- د برېښنايي زده کړې چاپېريال رامنځته کول.
- د استادانو او محصلانو تر منځ د اړيکو آسانه لاره موندل.
- د نوښت او پنځوني لپاره زمينه برابرول.

## 1.11.3. خدمات

### 1.11.3.1. لوړو زده کړو ته لاس رسی

د لوړو زده کړو بنسټونه د ټولنې د پرمختګ ستر مراکز دي چې د ټولنې ټول نخبه ګان او لايق اشخاص له همدې مراکزو څخه ټولنې ته وړاندې کېږي په همدې اساس د ښوونې او روزنې پوهنځی دا خپل رسالت بولي ترڅو د ټولنې په پرمختګ کې رغنده او مرکزي رول ولوبوي، دا چارې لپاره د ښوونې او روزنې پوهنځی خپل اداري او کادري ظرفيت غښتلي کولو ته لومړي توب ورکوي څو د يو غښتلي علمي او اداري تشکيل په واسطه د محصلينو جذب هم لوړ شي، د محصلينو د زيات شمير د جذب سربېره کيفيت هغه څه دی چې د ښوونې او روزنې پوهنځی ورته ژمنه ده. داسې فارغان ټولنې ته وړاندې کړي چې د علمي او مسلکي وړتيا علاوه په ملي احساس باندې سمبال وي، داسې فارغان ټولنې ته وړاندې کړي چې د ټولنې اړتياوو ته ځواب ويونکي او د استخدام کوونکي قناعت ترلاسه کړای شي. له دې څخه علاوه د ښوونې او روزنې پوهنځی هوډ لري چې د خپل مختلفو علمي پروګرامونو(ځېړنو، علمي نشراتو، سيمينارونو، وکشاپونو او لمانځغونډو) په واسطه د ټولنې په پرمختګ کې ونډه واخلي.

**لوړو زده کړو ته د لاس رسي زياتوالی**

په هره اندازه سره چې يوه ټولنه کې په زياته اندازه سره ښوونيز بنسټونه شتون ولري په هم هغه اندازه سره به د ټولنې د تحصيل او تعليم کچه لوړه وي او ورسره به د ټولنې د پرمختګ ښه ښودونکي وي.

په همدې اساس د ښوونې او روزنې پوهنځی هڅه کوي چې تر راتلونکو پنځو کلونو پورې په دې برخه کې لاندې کړنې تر سره کړي.

- د پوهنځی د څانګو زياتوالی.
- د کادری ، اداری او خدماتي غړو زياتوالی.
- د جذب په برخه د محصلينو زياتوالی.
- د لوړو زده کړو په اړه عامه پوهاوی.

### 1.11.3.2. د کريډيټ سيسټم تقويت

پدې عصر کې د نړی اکثره پرمختللي پوهنتونونه د کريډيټ سيسټم پلې کوي چې په افغانستان کې هم د ياد سيسټم په تطبيق باندې تمرکز شوی دی، ځکه دا سيسټم د کلاسيک سيسټم په پرتله زياتې ښګڼې لري.

په همدې بنا سره د ښوونې او روزنې پوهنځی په پام کې لري چې د کريډيټ سيسټم د ښه تطبيق په برخه کې لاندې فعاليتونه تر سره کړي.

- اداري کارمندانو او استادانو ته د کريډيټ سيسټم د لايحې په اړه سيمينارونه وړاندې کول.
- د کريډيټ سيسټم د ښه تطبيق لپاره د نصاب کميټې رامنځته کول.
- د کريډيټ سيسټم په اړه محصلينو ته معلومات وړاندې کول.
- د کريډيټ سيسټم د ښه تطبيق لپاره له عصری تکنالوژی څخه استفاده کول.
- د هر کريډيټ لپاره حد اقل تر ۸۰ صفحو پورې درسي مفردات ترتيبول.
- د تدريسي موادو په ترتيب کې له نويو مأخذونو څخه استفاده کول.
- د کريډيټ سيسټم ښه والي په اړه خلکو ته عامه پوهاوی وړاندې کول.

### 1.11.3.3. محصلینوته د خداماتو زیاتوالی

د ښوونیز نظام تر ټولو لوی هدف محصلینو ته په ښه ډول سره د خدماتو وړاندې کول دي، د زده کړې ښه چاپیریال پر زده کړه باندې مستقیماً اغېزه لري، د ښو خدماتو په شتون کې محصلین کولای شي په ښه او آسانه ډول سره زده کړې ترسره کړي.

د ښوونې او روزنې پوهنځی په پلان کې لري چې د محصلینو لپاره په لاندې برخو کې ښه خدمات ترتیب کړي.

- ❖ نویو محصلینو ته د ښه راغلاست پرگرامونه ترتیبول.
- ❖ د محصلینو لپاره د لایحې مطابق لاربښود استادان ټاکل.
- ❖ په لازمو برخو د محصلینو سره عملي کارونه تر سره کول.
- ❖ د تدریس په جریان کې له عصري تکنالوژۍ څخه استفاده کول.
- ❖ د زده کړو د آسانتیا لپاره انلاین زده کړې رامنځته کول.
- ❖ د غیرې مسلکي زده کړو لپاره بیلابیل پروګرامونه ترتیبول.
- ❖ د محصلینو د شکایاتو د اوریدلو لپاره د شکایاتو د اوریدلو کمېټه رامنځته کول.
- ❖ د کریکولم مطابق د درسي موادو تهیه کول.
- ❖ د ازموینو د شفافیت لپاره د ازموینو کمېټه ایجادول.
- ❖ د محصلینو د زده کړې د پراختیا لپاره لابراتوارونه ، کمپیوټرلب او کتابتون جوړول.

۱۳۹۹ Faculty of Education

## 1.11.4. زیربنا برخه

په هره اداره کې د فعالیتونو د ترسراوي لپاره د بشري او مالي منابعو تر څنګ فزیکي منابعو ته هم ضرورت دی ترڅو بشري ، مالي او فزیکي منابع په یوځایوالي سره خپل فعالیتونه په سم ډول ترسره او اهداف ترلاسه کړي.

له بله اړخه د لوړو زده کړو په چوکات کې د ښوونې او روزنې پوهنځی یواځنی پوهنځی دی چې د نورو پوهنځیو په پرتله سره د زیاتو څانګو لرونکي ده، نو په همدې اساس سره د زیربنا په برخه کې زیاتو اداري او تدریسي چارو ته ضرورت لري.

### 1.11.4.1. تدریسي ساختمان

دا چې د ښوونې او روزنې پوهنځی اوس لپاره یوه ودانی لري، لیکن نوموړې ودانی له یوه اړخه په معیاري ډول نده جوړه شوې او له بله اړخه د ټولګیو شمیر د پنځو کلونو لپاره د ټولو څانګو اړتیاوې نشي پوره کولای، نو اړینه ده چې یوه ستره معیاري ودانی د یاد پوهنځي لپاره د پنځو کلونو په جریان کې جوړه شي.

د پوهنځي د بشپړې پراختیا او پرمختګ لپاره اړینه ده، چې د مؤسسي د ماستر پلان له مخې ټولې ساختماني چارې زر تر زره ترسره شي، خو د مالي او بودیجوي امکاناتو محدودیت د دې کار په وړاندې خند ګرځیدلی او د پوهنځی او مؤسسې اداري اړ دي چې د لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره خپلې رغنیزې چارې مخته یوسي.

### 1.11.4.2. د کمپیوټرلب او نورو تدریسي چارو پرمختګ

د ښوونې او روزنې پوهنځی تر دې مهاله ځانګړی کمپیوټرلب او کتابتون نه لري یوازې د کیمیا په برخه کې د یوه لابراتوار لرونکي ده یاد پوهنځی هڅه کوي چې په دې برخه کې لاندې کړنې ترسره کړي.

- ❖ د پوهنځی لپاره ځانګړی کمپیوټرلب ایجادول.
- ❖ د پوهنځی د هرې څانګې لپاره چې لابراتور لازم وي ایجادول.
- ❖ د پوهنتون په کتابتون کې د ښوونې او روزنې پوهنځی اړوند کتابونو زیاتوالی.
- ❖ د پوهنځی لپاره ځانګړی کتابتون ایجاد کول.
- ❖ تدریسي صنفونه په عصري تکنالوژۍ ( LCD او پروجیکټور ) سره مجهز کول.
- ❖ انټرنیټ ته د محصلینو، کارمندانو او استادانو د لاس رسي زمینه ایجادول.

| شمېره | ستراتیژیکاني | ښه حکومتولي | | | علمي پروګرامونه | | خدمات | | زیربنا | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | اصلي عوامل | ضریب اهمیت | جذابیت ضریب | نمره | جذابیت ضریب | نمره | جذابیت ضریب | نمره | جذابیت ضریب | نمره |
| | **فرصتونه** | | | | | | | | | |
| ۱ | له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لېوالتیا. | 0.08 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 |
| ۲ | په ټولنه کې د ښه نوم درلودل. | 0.1 | 4 | 0.4 | 4 | 0.4 | 4 | 0.4 | 4 | 0.4 |
| ۳ | له اړونده تعلیمي اداراتو سره د ښه اړیکو درلودل. | 0.07 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 |
| ۴ | د نوي علمي تکنالوژۍ د تطبیق لپاره ظرفیتونو شتون. | 0.06 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 |
| ۵ | د ټولني همکاري او ملاتړ درلودل. | 0.07 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 |
| ۶ | په هیواد کې دننه لنډ مهاله مسلکي کورسونو او ورکشاپونو درلودل. | 0.07 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 |
| ۷ | د زیربنا لپاره د لازم چاپیریال شتون. | 0.07 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 |
| | **تهدیدونه** | | | | | | | | | |
| ۱ | د آزموینو ملی اداري له لارې د ټیټې سویې محصلینو معرفي کېدل. | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۲ | د علمي کادرونو او خدماتي کارکوونکو محدود تشکیل. | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 |
| ۳ | د استادانو د معاشاتو کمښت. | 0.09 | 1 | 0.09 | 1 | 0.09 | 1 | 0.09 | 1 | 0.09 |
| ۴ | د نصاب مطابق د درسي منابعو نشتون. | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۵ | په ګمارنو کې د غیر ذی ربط اشخاصو او ادارو لاس وهنه. | 0.07 | 2 | 0.14 | 2 | 0.14 | 2 | 0.14 | 2 | 0.14 |
| ۶ | د ټولني ضعیف اقتصادی وضعیت. | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۷ | د محصلینو لپاره د لیلیې نه شتون. | 0.06 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 |
| | **قوتونه** | | | | | | | | | |
| ۱ | د ځوان او با انرژي علمي کادرونو او اداري کارکوونکو درلودل. | 0.07 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 |
| ۲ | د کیمیا په برخه کې د لابراتوار شتون. | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 |
| ۳ | د پوهنتون په کچه د کتابتون شتون. | 0.04 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 |
| ۴ | منظمه رهبري او متعهد کاري تیم درلودل. | 0.06 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 |
| ۵ | د پوهنتون په کمپټو کې غړیتوب درلودل. | 0.07 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 |
| ۶ | د پوهنځي په کچه د لسو کمپټو شتون. | 0.06 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 |
| ۷ | د کریډیټ سیستم تطبیق. | 0.06 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 |
| ۸ | په کافي اندازه د اداري منابعو شتون. | 0.04 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 |
| ۹ | د نوي درسي نصاب تطبیق. | 0.04 | 4 | 0.16 | 4 | 0.16 | 4 | 0.16 | 4 | 0.16 |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | اداري تعمیر. | 0.05 | 4 | 0.20 | 4 | 0.20 | 4 | 0.20 | 4 | 0.20 |
| ۱۱ | مجهز ټولګی درلودل. | 0.06 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 |
| ۱۲ | د HEMIS سیستم تطبیق. | 0.06 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 |
| ۱۳ | د انټرنیټ شتون. | 0.07 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 |
| ۱۴ | د استاد او محصل ترمنځ د $\frac{۱}{۲۵}$ نسبت شتون. | 0.05 | 4 | 0.20 | 4 | 0.20 | 4 | 0.20 | 4 | 0.20 |
| ۱۵ | د منظم کمپیوټر لب شتون. | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 |
| | **ضعفونه** | | | | | | | | | |
| ۱ | د ماسټري او دوکتورا په سویه د علمي کادرونو کمبود. | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۲ | د مجهزو معیاري ټولګیو کمښت. | 0.04 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 |
| ۳ | د تدریس لپاره مجهز او معیاري کمپلکس نه درلودل. | 0.02 | 1 | 0.02 | 1 | 0.02 | 1 | 0.02 | 1 | 0.02 |
| ۴ | مناسب تدریسي چاپیریال نشتون. | 0.07 | 2 | 0.14 | 2 | 0.14 | 2 | 0.14 | 2 | 0.14 |
| ۵ | څیړنیز مرکز نشتون. | 0.04 | 1 | 0.04 | 1 | 0.04 | 1 | 0.04 | 1 | 0.04 |
| ۶ | د استادانواو اداري کارکوونکو د کورونو ستونزه. | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۷ | د کیمیا لابراتوار لپاره د مسلکی لابرانټ نه درلودل. | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۸ | د فزیک لابراتوار لپاره د مسلکی لابرانټ نشتون. | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 |
| | **مجموعه** | **2** | | **6.08** | | **6.08** | | **6.08** | | **6.08** |

د QSPM ماتریکس څخه په ګټه اخیستنې سره ، د ښووني او روزني پوهنځی ستراتیژیګاني د خپلو ضعفونو ، قوتونو ، فرصتونو، او تهدیدونو په پام کې نیولو سره اولویت بندي شوي دي. چې ستراتیژیګاني ، په ترتیب سره (علمي پروګرامونه)، (ښه حکومتولي)، (خدمات) او (زیربنا) د لوړ جذابیت څخه برخمني دي.

## 1.11.5. د ښوونې او روزنې پوهنځی د ستراتیژیک اولویت

| شمیره | دستراتیژی اولویت | ستراتیژی | د عمل برنامه |
|---|---|---|---|
| ۱ | علمي پروګرامونه | ▪ د کادري غړو رشد او پراختیا<br>▪ درسي مواد پراختیا<br>▪ معلوماتي ټکنالوژی ته لاسرسی<br>▪ الکترونیکي زده کړې<br>▪ تضمین کیفیت او اعتبار تر لاسه کول | ▪ د سیال کادري اشخاصو هڅولو طرح رامینځته کول<br>▪ د نافذه قوانینو په رڼا کې د شفافي پروسي سرته رسیدو په موخه د نظارت لازم میکانیزم رامینځته کول<br>▪ د تولنیزو ستونزو حل کې د پوهنځی وندې اړوند عمل برنامه<br>▪ د( تحصیلي نصاب ) کمیټي په مټ د نصاب له تطبیق څخه نظارت، او په بازار کی دکار دپیداکیدلود طرحي ترتیب .<br>▪ له نوي ټکنالوژي څخه د ګټي اخیستني لپاره د لازمو سهولتونو رامینځته کول.<br>▪ د بریښنایي زده کړو عاملو عمل پروګرام<br>▪ د تضمین کیفیت ۱۱ ګونو معیارونو د تکمیل او اکریډیټشن په موخه د هر اړخیزه طرحه رامینځته کول؛ او له هرې برخي ته د نظارت میکانیزم جوړل |
| ۲ | حکومت داری | ▪ تفاهم لیکونه او توامیتونه<br>▪ مالي مرستو جذب کول<br>▪ مالي، اداري او علمي خپلواکی<br>▪ د فساد پر وړاندې مبارزه<br>▪ د ارزیابی او نظارت قوی کول | ▪ له مختلفو اکادومیک او غیر اکادومیک ادارو سره د مرستو د تفاهم لیکونو طرح رامینځته کول.<br>▪ د نورو ادارو سره د همکاری په موخه د ځانګړې کمیټي رامینځته کول، او د هغوی څخه د مرستي جلب کولو طرحه رامینځته کول<br>▪ د عایداتي سرچینو موندلو عمل پروګرام؛ له شرکاوو سره<br>▪ ګډې ناستي طرح کول.<br>▪ د حساب ورکوني او په دارو کې د روڼتیا عمل برنامه<br>▪ د مالي عایداتي سرچینو څخه د ښې ګټې اخیستني طرحي پروګرام<br>▪ د فساد پر وړاندې د مبارزې عمل پروګرام<br>▪ د اداري فساد اړوند د عامه پوهاوي عمل پروګرام<br>▪ د اړونده لوایحو، مقرراتو پلي کولو او له هغې څخه د نظارت ترسره کول .<br>▪ د څارنې او ارزونې کمیټي رامینځته کولو عمل پروګرام |
| ۳ | خدمات | ▪ د کریډټ سیستم تقویت او تطبیق<br>▪ محصلینوته د خدماتو زیاتوالی<br>▪ لوړو زده کړو ته لاسرسی | ▪ دکریډټ سیستم له پلي کیدو څخه د نظارت عمل برنامه.<br>▪ د محصلینو لپاره د لازمو سهولتونو رامینځته کولو عمل برنامه.<br>▪ د شاګرد محوری زده کړو عاملو عمل برنامه.<br>▪ د علمي سفرونو عمل برنامه.<br>▪ له ملي او نړیوالو مناسبتونو د لمانځني عمل برنامه.<br>▪ معرفي او ښه راغلاست « د نویو معرفی شویو محصلینو لپاره د ښه راغلاست برنامه »<br>▪ د نویو علمي پروګرامونو د ایجاد عمل برنامه. |
| ۴ | زیربنا | ▪ تدریسي ساختمان<br>▪ مجهزي کتابخاني او کمپیوټر لب درلودل | ▪ د پوهنځی د معیاری تدریسي تعمیراتو لپاره د مالي وجهو د تدارک عمل برنامه.<br>▪ د مجهزي کتابخاني او کمپیوټر لب د جوړولو اړوند اسنادو او وړاندیزونو تعقیب.<br>▪ د نورو زیربنای ي پروژو لپاره د مالي سپانسرشیپ موندلو عمل برنامه. |

## 1.11.6. ستراتیژیک مقاصد او د پوهنځی موخي سره له زماني ویش او اړینو اجراآتو

| شمیره | برنامه | هدف | مسول | سرچینی | اجرا وخت ۱۴۰۰ | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۴ | کتنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د شپږ برنامه ایجادول | عایداتی منابع او مالی خپلواکي | علمی معاونیت او د پوهنځی ریاست | عادی بودجه | | | | | | |
| ۲ | د لابراتوارونو پراختیا او تجهیز | | مالی اداری معاونیت او د پوهنځی ریاست | انکشافی بودجه | | | | | | |
| ۳ | له اړوندو ملی ادارو سره تفاهم لیک امضاء کول | مرستو جلبول | د پوهنځی ریاست | عادی بودجه | | | | | | |
| ۴ | د مجازاتو او مکافوتو رایجول | د فساد پر وراندی مبارزه | د پوهنځی ریاست | عادی بودجه | | | | | | |
| ۵ | د 7 دیپارتمنتو ایجاد | کادری تشیکیل زیاتیدل | علمی معاونیت او د پوهنځی ریاست | عادی بودجه | | | | | | |
| ۶ | د موجوده علمی کادرونو او اداری کارکووونکو ظرفبت ته وده او پراختیا ورکول | پراختیا و پرمختګ | علمی معاونیت او د پوهنځی ریاست | انکشافی بودجه او دونران | | | | | | |
| ۷ | د کریدیت سیستم د معیاری تطبیق په موخه علمی کادرنو، اداری کارمندانو او محصلینو ته د زده کړه ایزو کورسونو دایرول | د کریډیټ سیستم تقویت او تطبیق | د پوهنځی ریاست | عادی بودجه | | | | | | |
| ۸ | د (OBE-SCL) د زده کړو دودول | | د پوهنځی ریاست | عادی بودجه | | | | | | |
| ۹ | محصلینو ته د علمی سفرونو زمیه برابرول | محصلینو ته د سهولتونو برابرول | د پوهنځی ریاست | انکشافی بودجه | | | | | | |
| ۱۰ | سپورتی آسانتیاوې رامنځته کول | | مالی اداری معاونیت او د پوهنځی ریاست | عادی بودجه | | | | | | |
| ۱۱ | د محصلینو وړاندیزونو او شکایتونه ته رسیدګی | | د پوهنځی ریاست | عادی بودجه | | | | | | |
| ۱۲ | محصلینو ته د ښی زده کړی او مناسب چاپیریال رامنځته کول | | د پوهنځی ریاست | انکشافی بودجه | | | | | | |

# 2. دوهم څپرکی

## 1.2 د ستراتیژیکانو اجراء

د دغه ستراتیژیک پلان پلي کیدو او له وړاندې ټاکل شویو موخو ته د رسیدو په موخه د ښووني او روزني پوهنځی په پام کې لري چې خپل تشکیلاتي جوړښت پراخ، مدیریتي سیستم او خپلې پالیسي ګانې بیاکتنه ، د مالي اړتیاوو طرحې ترتیب او مالي وجوهو د تامین لپاره لازمي هڅې ترسره کړي.

لکه څرنګه چې وړاندې یادونه شوې، د ښووني او روزني پوهنځی متعهد او منسجم تشکیلاتي جوړښت لري

کوم چې د ستراتیژیک پلان په پلي کیدو کې خپل اغیز درلودلای شي. سره لدې، د ظرفیت لوړاوي برخه کې د لازمو ګامونو اوچتول هم د تمرکز وړ ګرځیدلي دی.

همدارنګه، د یاد پلان پلي کیدو په برخه کې لازم شرایط ، هغه چې په د ښووني او روزني پوهنځی او محیط پورې تړاو لري له وړاندې مهیا شوي دي. د ښووني او روزني پوهنځی کادري، اداري او خدماتي پرسونل په عالي روحیه متحدانه د دغې پوهنځی د پرمختګ لپاره له هیڅ ډول هڅو او زیار څخه ځانونه نه سپموي. سربیره پردې، وردګ ولسونو ثابته کړې ده چې د دغې پوهنځی لپاره هر ډول قربانۍ ته چمتو دي ،دغه ډول تعهدات پوهنځی ستراتیژیکو اهدافو ته په رسیدو کې تردیره مرسته کولای شي.

پوهنځی تعلیم و تربیه
۱۳۹۹
Faculty of Education

# 3. دریم څپرکی

## 3.1.ضمیمي

### 3.1.1.شمیره پوښتنپانه: داخلي وضعیت تجزیه او تحلیل

**معرفي :** ښووني او روزني پوهنځی په پام کې لري، چې راتلونکو پنځو کلونو له پاره ستراتیژیک پلان ترتیب کړي. په همدې موخه توظیف شوی کاري ټیم هڅه کوي، ستاسو د با ارزښته نظریاتو په پام کې نیولو سره خپل وضعیت تحلیل کړي. **له همکارۍ مو نړۍ مننه!**

د لاندې جدول ۳ کالم ضریب (چې د ټولو عواملو د ضرایبو مجموعه تر ۱۰۰ زیاته نشي)، ۴ کالم امتیازونو (چې هر قوت ته ۳ یا هم ۴ او هر ضعف ته ۱ یا هم ۲ امتیاز ورکول کیدی شي)، او ۵ کالم د ضرب حاصل(د ضریب او امتیاز) ته ځانګړي شوي دي.

د ډکوونکي ځانګړني : نوم ( ) تخلص ( ) دنده ( )

| شمېره | داخلي عوامل (قوتونه) | ضریب | امتیاز | نمره |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ځوان او با انرژي علمي کادرونو او اداري کارکوونکو درلودل. | | | |
| ۲ | د کیمیا په برخه کې د لابراتوار شتون. | | | |
| ۳ | د پوهنتون په کچه د کتابتون شتون. | | | |
| ۴ | منظمه رهبري او متعهد کاري ټیم درلودل. | | | |
| ۵ | د پوهنتون په کمپېو کې غړیتوب درلودل. | | | |
| ۶ | د پوهنځی په کچه د لسو کمپېو شتون. | | | |
| ۷ | د کریډیټ سیستم تطبیق. | | | |
| ۸ | په کافي اندازه د اداري منابعو شتون. | | | |
| ۹ | د نوي درسي نصاب تطبیق. | | | |
| ۱۰ | اداري تعمیر. | | | |
| ۱۱ | مجهز ټولګی درلودل. | | | |
| ۱۲ | د HEIMS سیستم تطبیق. | | | |
| ۱۳ | د انټرنیټ شتون. | | | |
| ۱۴ | د استاد او محصل ترمنځ د $\frac{۱}{۲۵}$ نسبت شتون. | | | |
| ۱۵ | د منظم کمپیوټر لب شتون. | | | |
| **داخلي عوامل (ضعفونه)** | | | | |
| ۱۶ | د ماسټري او دوکتورا په سویه د علمي کادرونو کمبود. | | | |
| ۱۷ | د مجهزو معیاري ټولګیو کمښت. | | | |
| ۱۸ | د تدریس لپاره مجهز او معیاري کمپلکس نه درلودل. | | | |
| ۱۹ | مناسب تدریسي چاپیریال نشتون. | | | |
| ۲۰ | څېړنیز مرکز نشتون. | | | |
| ۲۱ | د استادانو او اداري کارکوونکو د کورونو ستونزه. | | | |
| ۲۲ | د کیمیا لابراتوار لپاره د مسلکی لابرانټ نه درلودل. | | | |
| ۲۳ | د فزیک لابراتوار لپاره د مسلکی لابرانټ نشتون. | | | |
| ستاسو په آند نور داخلي عوامل | | | | |
| ۲۴ | | | | |
| ۲۵ | | | | |
| **مجموعه** | | | | |

د ډکوونکي نوم او امضاء نیټه:

## 3.1.2 شمره پوښتنپاڼه: بیروني وضعیت تجزیه او تحلیل

**معرفي :** ښووني او روزني پوهنځی په پام کې لري، چې راتلونکو پنځوکلونو له پاره ستراتیژیک پلان ترتیب کړي. په همدې موخه توظیف شوی کاري ټیم هڅه کوي، ستاسو د با ارزښته نظریاتو په پام کې نیولو سره خپل وضعیت تحلیل کړي. **له همکارۍ مو نړی مننه!**

د لاندې جدول ۳ کالم ضریب (چې د ټولو عواملو د ضرایبو مجموعه تر ۱۰۰ زیاته نشي)، ۴ کالم امتیازونو (چې هر فرصت ته ۳ یا هم ۴ او هر تهدید ته ۱ یا هم ۲ امتیاز ورکول کیدی شي)، او ۵ کالم د ضرب حاصل(د ضریب او امتیاز) ته ځانګړي شوي دي.

د ځوونکي ځانګړني: نوم ( ) تخلص ( ) دنده ( )

| شمېره | بیروني عوامل (فرصتونه) | ضریب | امتیاز | نمره |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لیوالتیا. | | | |
| ۲ | په ټولنه کې د ښه نوم درلودل. | | | |
| ۳ | له اړونده تعلیمي اداراتو سره د ښه اړیکو درلودل. | | | |
| ۴ | د نوي علمي تکنالوژۍ د تطبیق لپاره ظرفیتونو شتون. | | | |
| ۵ | د ټولني همکاري او ملاتړ درلودل. | | | |
| ۶ | په هیواد کې دننه لنډ مهاله مسلکي کورسونو او ورکشاپونو درلودل. | | | |
| ۷ | د زیربنا لپاره د لازم چاپیریال شتون. | | | |
| بیروني عوامل (تهدیدونه) | | | | |
| ۸ | د آزموینو ملی اداری له لارې د ټیټې سویې محصلینو معرفي کېدل. | | | |
| ۹ | د علمي کادرونو او خدماتي کارکوونکو محدود تشکیل. | | | |
| ۱۰ | د استادانو د معاشاتو کمښت. | | | |
| ۱۱ | د نصاب مطابق د درسي منابعو نشتون. | | | |
| ۱۲ | په ګمارنو کې د غیر ذی ربط اشخاصو او ادارو لاس وهنه. | | | |
| ۱۳ | د ټولني ضعیف اقتصادی وضعیت. | | | |
| ۱۴ | د محصلینو لپاره د لیلیې نه شتون. | | | |
| ستاسو له نظره نور خارجي لاملونه | | | | |
| ۱۵ | | | | |
| ۱۶ | | | | |
| ۱۷ | | | | |
| ۱۸ | | | | |
| ۱۹ | | | | |
| **مجموعه** | | | | |

نیته: د ځوونکي نوم او امضاء

## 3.1.3 شمیره پوښتنپاڼه: د ښووني او روزني پوهنځی د علمی برخې پراختیايي جدول

| شمیره | پوهنځی | دیپارتمنت | کال ۱۴۰۰ | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۴ | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ښوونه او روزنه | کیمیا | ■ | | | | | |
| ۲ | | بیولوژي | ■ | | | | | |
| ۳ | | تاریخ | ■ | | | | | |
| ۴ | | جغرافیه | ■ | | | | | |
| ۵ | | پښتو | ■ | | | | | |
| ۶ | | دري | | | | ■ | | |
| ۷ | | علوم وفرهنگ اسلامی | | ■ | | | | |
| ۸ | شپې برنامه | ریاضی | | | | | ■ | |
| ۹ | | فزیک | | | | | ■ | |
| ۱۰ | داخل خدمت برنامه | ریاضی | | ■ | | | | |
| ۱۱ | | فزیک | | ■ | | | | |

## 3.1.4 شمیره پوښتنپاڼه: د ښووني او روزني پوهنځی د علمي او اداراتی تشکیلاتو پراختیایي جدول

| شماره | برخه | دیپارتمنت | کال ۱۴۰۰ | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۴ | مجموعه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | علمي بستونه | ریاضي | 0 | 1 | 1 | 0 | 1 | 3 | |
| ۲ | | فزیک | 0 | 1 | 0 | 1 | 1 | 3 | |
| ۳ | | کیمیا | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | 2 | |
| ۴ | | بیولوژي | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | 2 | |
| ۵ | | تاریخ | 2 | 0 | 0 | 1 | 0 | 3 | |
| ۶ | | جغرافیه | 2 | 0 | 0 | 1 | 0 | 3 | |
| ۷ | | پښتو | 4 | 0 | 0 | 0 | 0 | 4 | |
| ۸ | | دري | 0 | 0 | 0 | 4 | 0 | 4 | |
| ۹ | | علوم وفرهنگ اسلامی | 0 | 0 | 4 | 0 | 0 | 4 | |
| | مجموعه | | 12 | 2 | 5 | 7 | 2 | 28 | |
| ۱۰ | ۷ — | ۳بست | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | | ۴بست | 0 | فزیک لابرانت (۱) | کیمیا لابرانت(۱) | 0 | 0 | 2 | |
| ۱۲ | | ۵ بست | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | |
| ۱۳ | | ۶بست | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | |
| مجموعه | | | 0 | 1 | 1 | 0 | 0 | 2 | |
| ۱۴ | خدمات | ۷ بست | 0 | 0 | 1 | 0 | 1 | 2 | |
| ۱۵ | | ۸ بست | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 1 | |
| مجموعه | | | 0 | 0 | 1 | 1 | 1 | 3 | |

پورتنی ستراتیژیک پلان د پوهنځی شورا په (۳)گنه پروتوکول او ( ۶ / ۳/ ۱۴۰۲ ) نیټي سره ثبت او تائید دی.

د ښووني او روزني پوهنځی رئیس
پوهنمل عبدالقدیر جلالي

پورتنی ستراتیژیک پلان د پوهنتون د علمی شورا په (۵) گنه پروتوکول او (۲۹ / ۵ /۱۴۰۲) نیټي سره ثبت او تائید دی.

د وردگ پوهنتون رئیس
الحاج شیخ الحدیث مولوی صفت الله حقانی